مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

زلمی نصرت

۲۰۲۴/۰۴/۰۴

# غزل

خياله په خيال کې مې د يار سره خبرې کوم
کله د گل کله د خار سره خبرې کوم

د پرون ژوند چې شي را ياد او دا د نن خبرې
کله د روغ کله بيمار سره خبرې کوم

د سحر باده ما زر يوسه د مشرق په لورې
چې په څيله کې د بهار سره خبرې کوم

چې له پروازه شوم را ښکته د " روښان" پرځمکه
نيت مې پوره شو، ننگرهار سره خبرې کوم

نصرته خوږ ترنم بيا راځي د يار له کلي؟
که تصور کې د سيتار سره خبرې کوم.

زلمی نصرت
دنمارک
۰۳.۰٤.۲۰۲٤

يادونه:
د منلی شاعر ښاغلی صديق" ننگ" د لاندې څلوريزې څخه په الهام سره.

## څلوريزه

خياله ښکل يې کړه گلونه مخ ديار مې په زړه اوري
دنارنج او د نرگسو ښکلی هار مې په زړه اوري

له خزان مې پروا نه شته هسې شين چې په خندا يم
د بهار منت به څه وړم ننگرهار مې په زړه اوري.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ